دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# کالعدم ټي ټي پي د سولې غوښتونکی او پرمختللی مشر د مخی نه د لری کولو ناوړه دسیسه

شمالي وزيرستان: په ميرعلي (زرکي) کې د ټي ټي پي هدفي قاتلانو تر ټولو مخلص او ترقي پسند ملک داود شهيد کړ ـ

**شهيد ملک داود د هغو څو قدرمنو مشرانو څخه ګڼل کيده چې په قبايلي ضلعو کې د سولې د ټينګښت لپاره يې هڅې په هره کچه ستايل شوې او قبايل ورته په ډير درناوي سره کتل ـ**

ملک داود د موسکی د کميټې غړی و او د سيمه ييزو مسلو په هوارولو کې يې مهم رول درلود. چې بې له شکه د خوارج په سترګو کې خندوه او خوارج د دوی ژوند په اخيستو کې وو ـ






**ترهګر وسيم يحيی او ترهګر قاسم د ملک داوود وريرونه دي چې درې کاله وړاندې يې د ملک داوود دوه زامن شهيدان کړي ـ د ځايي سرچينو په وينا دواړه په دې هدفي وژنو کې لاس لري ـ**

د امنيتي ځواکونو د پرله پسې برياليو عملياتو په نتيجه کې د خوارج رهبري د سيمې د پرمختګ او سوکالۍ د له منځه وړلو په موخه پرمختللو مشران په نښه کوي، چې د خلکو سره دښمني يې په ډاګه شوی ده ـ

ولس د خوارجو تحريک پر وړاندې له دولتي ادارو سره ولاړ دی او په دې بزدلانه کړنو سره د ولس مورال نه شي ټيټولای، قومونه به پرې نه ږدي چې د سيمې د مشرانو وينه بې ځايه لاړې شي، ان شاءالله